# مور ته رسول الله صلى الله علیه وسلم په اوو کارونو امر وکړ او له اوو کړنو څخه یې منع کړو

له البراء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: مور ته رسول الله صلى الله علیه وسلم په اوو کارونو امر وکړ او له اوو کړنو څخه یې منع کړو: مور ته یې د ناروغ په پوښتنې، د جنازې پسې تللو، پرنجي کوونکي ته (یرحمک الله) ویلو، قسم یا قسم کوونکي ته براءت ورکولو، د مظلوم ملاتړ کولو، د بلونکي بلنې منلو، او سلام دودولو امر کړی او د طلا یعنې سرو زرو ګوتو په لاس کولو، یا د مهر لپاره کارولو، سپین زرینو لوښو کې له څښلو، په سپرلۍ د وریښمني زین له اېښودلو او وریښمین ټوکر له اغستلو څخه منع کړې یو، همدا رنګه یې د هر ډول وریښمو له کارولو منع کړې یو؛ هغه که عادي وي، یا غلیظ وي او یا قیمت بها وریښمین.
[صحیح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم مسلمانانو ته په اوو خویونو امر کړی او له اوو نورو څخه یې منع کړې دي؛ نو هغه چې امر یې پرې کړی په لاندې ډول دي: لومړی: د ناروغ پوښتنه. دویم: جنازې پسې تلل او د جنازې په لمانځه او مړي دفن کولو او ورته دعا کولو کې ګډون. دریم: هغه چاته دعا چې کله پرنجی وکړي او الحمد لله ووایي چې: یرحمک الله ورته وویل شي. څلورم: قسم کوونکي ته د هغه په ریښتیا ګڼلو براءت ورکول، پدې معنا چې که هغه ته په یو څه کې سوګند ورکړل شو او ته پدې قادر وې چې هغه ته براءت ورکړې نو دا کار وکړه؛ تر څو اړ نه شي چې د خپل قسم کفاره ادا کړي. پنځم: د مظلومانو ملاتړ کول، د هغوی سره مرسته کول او د تر خپلې وسې پورې پر هغوی د ظالم د ظلم مخنیوی کول. شپږم: د ولیمې بلنه منل، لکه د واده مېلمستیا، د ماشوم د نوم اېښودلو مراسم، یا داسې نور مناسبتونه. اووم: د سلام اچولو دودول او سلام ځوابول. او هغه کارونه چې ترې منع کړې یې دي: لومړی: د سرو زرو ګوتې په لاس کول پرې سینګار کول. دویم: د سپینو زرو په لوښو کې څښاک کول. دریم: په وریښمني زین‌پوښ کېناستل، هغه وریښمین زین چې د آس او اوښ له پاسه اېښودل کېږي. څلورم: د وریښمین ټوکر اغوستل هغه چې وریښم پکې کاریدلي وي او (القَسِّي) ورته ویل کېږي. او پنځم: وریښمین کالي اغوستل. شپږم: پنډ یا غلیظ وریښم اغوستل، کوم چې ډبل وریښم دي. اووم: نرم او پاسته وریښمین کالي اغوستل، کوم چې د وریښمو غوره او قیمتي ډول دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2944

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee